# دَ کورنتيانو په نُوم دَ پولوس رسُول اول خط

## سلام اَؤ دَ خُدائے شکر

١ ⑴ دَ پولوس دَ طرف نه چه دَ خُدائے په رضا دَ مسيح عيسىٰ رابللے شوے
رسُول، اَؤ دَ ورور سوستينس له طرف نه،

⑵ دَ خُدائے دَ هغه جماعت په نُوم چه په کورنتوس کښے دے، يعنے دَ هغوئ
په نُوم چه په مسيح عيسىٰ کښے پاک کړی شوی اَؤ بللی شوی پاکان دی، اَؤ دَ
هغو ټولو په نُوم هم چه په هر ځائے کښے دَ هغوئ اَؤ زمُونږ دَ مالِک عيسىٰ
مسيح په نُوم عبادت کوی،

⑶ زمُونږ دَ خُدائے پلار اَؤ دَ مالِک عيسىٰ مسيح فضل اَؤ سلامتی دِ تاسو سره
وی.

⑷ زۀ ستاسو په حقله دَ خُدائے دَ هغه فضل په سبب چه په مسيح عيسىٰ کښے
په تاسو وشو، هميشه دَ خُدائے شکر کوم. ⑸ چه تاسو په هغۀ کښے شوئ نو
په ټولو خبرو کښے، په کلام اَؤ غم کښے دَ هر قِسم دولت خاوندان شوی يئ.
⑹ هم دغه وجه ده چه دَ مسيح ګواهی په تاسو کښے قائمه شوه. ⑺ تر دے
چه تاسو په يو نعمت کښے هم نيمګړی نۀ يئ اَؤ زمُونږ دَ مالِک عيسىٰ مسيح دَ
ظهُور په اِنتظار يئ، ⑻ څوک چه به تاسو تر آخره پورے قائم ساتی، دَ دے دَ
پاره چه تاسو زمُونږ دَ مالِک عيسىٰ مسيح په ورځ دَ اِلزام نه بری شئ. ⑼
خُدائے رښتُونے دے چا چه تاسو دَ خپل زوی، زمُونږ دَ مالِک عيسىٰ مسيح دَ
شراکت دَ پاره رابللی يئ.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## په جماعت کښې ډله بازي

۱۰ نو اوس اَئے ورُوڼو، عيسیٰ مسيح چه زمُونږ مالِک دے، دَ هغهٔ دَ نُوم په وسيله تاسو ته خواست کوم چه ټول يو شئ اَؤ ډلے پرے مه جوړوئ، خو په يو عقل اَؤ پُوره په يوه رائے شئ. ۱۱ ځکه چه اَئے ورُوڼو، ستاسو په نسبت ما ته دَ خلوئ دَ خاندان نه معلُومه شوے ده چه په تاسو کښې جګړے روانے دی. ۱۲ زما مطلب دا دے چه په تاسو کښې ځوک خو ځان ته دَ پولوس وائی، ځوک دَ اپولوس، ځوک دَ کيفا اَؤ ځوک دَ مسيح. ۱۳ آيا مسيح ووېشلے شو؟ آيا پولوس ستاسو دَ پاره په سولئ کړے شو؟ آيا تاسو دَ پولوس په نُوم بپتسمه واخسته؟

۱۴ دَ خُدائے شکر ګذار يم چه دَ کرسپوس اَؤ ګايُوس نه بغير ما په تاسو کښې يو تن ته هم بپتسمه نهٔ ده ورکړے، ۱۵ دَ دے دَ پاره چه ځوک دا ونهٔ وائی چه زما په نُوم ئے بپتسمه آخستے ده. ۱۶ هو دَ سِتِفانس خاندان ته هم ما بپتسمه ورکړے ده. نوره ما ته نهٔ ده معلُومه چه ما بل چا ته بپتسمه ورکړے وی. ۱۷ ځکه چه مسيح زهٔ بپتسمه ورکولو ته نهٔ يم را استولے بلکه زيرے آؤرولو ته، اَؤ هغه هم دَ الفاظو په حِکمت نه، دَ دے دَ پاره چه دَ مسيح سولئ بے تاثيره نهٔ شی.

## مسيح دَ خُدائے قُدرت اَؤ حِکمت

۱۸ ځکه چه دَ سولئ پيغام دَ هلاکيدُونکو په نِزد بے وقوفی ده خو زمُونږ دَ نجات موندُونکو په نِزد دَ خُدائے قُدرت دے. ۱۹ ځکه چه ليکلی دی چه :

”زهٔ به دَ حکيمانو حِکمت نشت کړم

اَؤ دَ هوښيارانو عقل به رد کړم.“

۲۰ نو حکيم چرته؟ هوښيار چرته؟ اَؤ چرته دَ دے دُنيا بحث کوُونکے؟ آيا خُدائے دَ دُنيا حِکمت ته بے وقوفی نهٔ ده وئيلے؟



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(۲۱) ځکه چه دَ خُدائے دَ حِکمت په مُطابق دُنیا په خپله پوهه خُدائے ونهٔ پیژندو، نو خُدائے دا خوښه کړه چه دَ دے زیری په وسیله ایمان راوړُونکو له خلاصُون ورکړی، اګر که دُنیا ئے بے وقوفی ګڼی. (۲۲) دغه شان یهُودیان دَ نخښے طالبان دی اَوۡ یُونانیان دَ حِکمت په لټُون. (۲۳) خو مُونږ په سولئ شوی مسیح زیرے ورکوُو چه دَ یهُودیانو په نِزد ټکره اَوۡ دَ غیر قومُونو په نِزد بے وقوفی ده. (۲۴) خو څوک چه رابللی شوی دی، که هغه یهودیان وی که یُونانیان، دَ هغوئ په نِزد مسیح دَ خُدائے قُدرت اَوۡ دَ خدائے حِکمت دے. (۲۵) ځکه چه دَ خُدائے بے حِکمتی دَ بنی آدمو دَ حکمت نه زیات حِکمت دے اَوۡ دَ خُدائے کمزورتیا دَ بنی آدمو دَ زور نه زیاته زوره وره ده.

(۲۶) اَئے ورُونړو! خپلے بلنے ته خو لږ فکر وکړئ چه ستاسو په مینځ کښے په اِنسانی طور خو ډیر حکیمان، ډیر زوره ور اَوۡ ډیر دَ اُوچت خاندان خلق راونهٔ بللے شول. (۲۷) خو خُدائے دَ دُنیا بے وقوفان غوره کړل دَ دے دَ پاره چه حکیمان شرمنده کړی، اَوۡ خُدائے دَ دُنیا عاجزان غوره کړل چه زوره ور شرمنده کړی. (۲۸) بلکه خُدائے دَ دُنیا کمینه، سپک اَوۡ بے اَصله غوره کړل چه دَ وجُود خاوندان نِشت کړی، (۲۹) دَ دے دَ پاره چه یو بشر هم دَ خُدائے په وړاندے لوئی ونهٔ کړی. (۳۰) خو تاسو دَ خُدائے له خوا په مسیح عیسیٰ سره یووالے لرئ چه زمُونږ دَ پاره دَ خُدائے له لوری حِکمت ګرزیدلے دے، یعنے صداقت اَوۡ پاکوالے اَوۡ فِدیه. (۳۱) لکه چه لیکلی دی : ”څوک چه فخر کوی هغه دِ په مالِک فخر کوی.“

## په سولئ شوی مسیح پیغام

**۲** (۱) اَئے ورُونړو، کله چه زهٔ تاسو له راغلم اَوۡ په تاسو کښے مے دَ خُدائے دَ راز زیرے خور کړو، نو هغه څهٔ دَ اُوچتے درجے تقریر یا دَ حِکمت په زور نهٔ وو. (۲) ځکه چه ما دا اِراده کړے وه چه ستاسو په مینځ کښے دَ عیسیٰ مسیح



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بلکه په سولۍ شوی مسیح نه بغیر نور هیڅ ونۀ پیژنم. ۳ اَؤ ما په عاجزئ، ویره اَؤ رپیدو په تاسو کښې وخت تیر کړو. ۴ اَؤ زما پیغام اَؤ زیرے دَ حِکمت په غُلوؤنکو خبرو نۀ وو بلکه هغه دَ خُدائے دَ رُوح دَ قُدرت دَ مخه ثابت وو، ۵ دَ دے دَ پاره چه ستاسو ایمان دَ اِنسان په حِکمت نه بلکه دَ خُدائے په قُدرت موقُوف وی.

## دَ خُدائے دَ رُوح په وسیله کشف

۶ بیا هم په رُوحانی بالغانو کښې مُونږ دَ حِکمت خبرے کوُو خو نه دَ دے جهان اَؤ نه دَ دے فنا کیدُونکو سردارانو دَ حِکمت نه، ۷ بلکه مُونږ دَ خُدائے هغه پټ حِکمت راز بیانوُو چه خُدائے دَ دُنیا جوړولو نه مخکښې دا فیصله کړے وه چه مُونږ دَ هغه حِکمت په وسیله جلال ومُومو، ۸ اَؤ کُوم چه دَ دے زمانے په سردارانو کښې یو هم نۀ دے پیژندلے ځکه چه که هغوئ پیژندلے وے نو دَ جلال مالِک به ئے په سولۍ کړے نۀ وو. ۹ بلکه څرنګ چه لیکلی شوی دی هم هغسے وشول چه :

”څۀ چه نۀ سترګو لیدلی، نۀ غوږُونو آؤریدلی

اَؤ نۀ دَ اِنسان په زړۀ کښې راغلی دی،

هغه څیزُونه خُدائے دَ هغوئ دَ پاره چه ورسره مینه لری، تیار کړی دی.“

۱۰ هغه ټول خُدائے په مُونږ دَ رُوح په وسیله ظاهر کړل، ځکه چه رُوح دغه ټولے خبرے وآزمی بلکه دَ خُدائے پټے خبرے هم معلُوموی. ۱۱ څوک دَ بل اِنسان دَ زړۀ خبرے معلُوملے شی بغیر دَ اِنسان دَ خپل رُوح نه چه په هغۀ کښې دے؟ دغه شان دَ خُدائے دَ رُوح نه بغیر هیچا ته دَ خُدائے خبرے معلُومے نۀ دی. ۱۲ خو مُونږ دَ دُنیاوی رُوح نه نۀ دی مُوندلے بلکه دَ هغه رُوح



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نه چه دَ خُدائے دَ طرفه دے، دَ دے دَ پاره چه هغه خبرے وپيژنُو کُومے چه
خُدائے مُونږ ته رابخښلی دی.

١٣ اَوُ مُونږ هغه خبرے په هغه الفاظو کښے نهٔ بيانوُو چه انسانی حِکمت مُونږ
ته را زده کړے دی بلکه په هغه الفاظو کښے چه مُونږ ته رُوح را ښوولی دی، اَوُ
دغسے رُوحانی خبرے هغه چا ته ښايُو، په چا کښے چه دَ خُدائے رُوح وی.
١٤ خو دَ نفس بنده دَ خُدائے دَ رُوح خبرے نهٔ قبلوی ځکه چه دا دَ هغهٔ په نزد
بے وقُوفی ده، اَوُ هغه په هغے نهٔ شی پوهيدے ځکه چه هغه تش دَ رُوحُ القُدس په
وسيله پوهيدے شی. ١٥ خو رُوحانی سړے ټولے خبرے وآزمئی خو په خپله به
په چا ونهٔ شی آزمائيلے. ١٦ څنګه چه صحيفے وائی چه :

”دَ مالِک په خيالُونو څوک پوهيدے شی

چه هغهٔ ته ئے صلاح ورکړی؟“

خو مُونږ دَ مسيح په شان عقل لرُو.

## دَ خُدائے په کار کښے ملګری

٣ ١ اَئے ورُوڼو، ما تاسو سره هغه شان خبرے ونهٔ کړے شوے لکه چه دَ
رُوحانيانو سره بلکه داسے لکه چه دَ دُنياوی خلقو اَوُ دَ هغوئ سره چه په مسيح
کښے ماشُومان دی. ٢ ما تاسو ته پئ درکړلے خو ډوډئ نه، ځکه چه په تاسو
کښے دَ هغے زغم نهٔ وو بلکه اوس هم در کښے زغم نِشته. ٣ ولے چه تر
اوسه دُنيادار يئ، ولے چه په تاسو کښے کينه اَوُ جګړه ده. نو آيا تاسو دُنيادار نهٔ
يئ څهٔ؟ اَوُ دَ دُنيا په مُطابق مُوَ يُون ونهٔ کړو؟ ٤ ځکه چه څهٔ وخت چه يو وائ
چه زَهٔ دَ پولوس يم اَوُ بل وائی چه زَهٔ دَ اپولوس يم، نو آيا تاسو دَ دُنياوی خلقو په
شان نهٔ شوئ؟



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ اپولوس څۀ ته وائی؟ اَوُ پولوس څۀ ته؟ هغوئ خادمان دی دَ چا په وسيله
چه تاسو ايمان راوړو اَوُ دَ دواړو هغه حيثيت دے کُوم چه هغوئ ته خُدائے
ورکړو. ۶ ما نهل کړو، اپولوس اوبۀ ورکړے، خو وده خُدائے ورکړه. ۷ نو
بيا نه نهل کوُونکے څۀ څيز دے اَوُ نۀ اوبۀ ورکوُونکے، خو خُدائے چه وده
ورکوُونکے دے. ۸ نهل کوُونکے اَوُ اوبۀ ورکووُونکے دواړه يو دی، خو دواړه
به دَ خپلے خوارئ په مُطابق اَجر بيا مُومی. ۹ ولے چه مُونږ دَ خُدائے سره
کار کوُونکی يُو، تاسو دَ خُدائے پټی يئ اَوُ دَ خُدائے مانړئ.

۱۰ ما دَ هغه توان په مُطابق چه خُدائے راکړو، دَ يو پوهه کِلکار په شان بُنياد
کيښودو اَوُ بل پرے مانړئ ودانوی، نو هر يو دِ خبردار شی چه پرے څنګه مانړئ
جوړوی. ۱۱ ځکه چه بغير دَ هغه بُنياد نه چه ايښودلے شوے دے، اَوُ هغه
عيسیٰ مسيح دے، بل څوک بُنياد نۀ شی کيښودے. ۱۲ که څوک په هغه بُنياد
باندے دَ سرو زرو يا دَ سپينو يا دَ قيمتی کاڼو يا لرګو يا واښو يا دَ بُوسو رده
ږدی، ۱۳ نو دَ هغۀ کار به ښکاره شی ځکه چه دَ قيامت په ورځ به دَ اور سره
راڅرګند شی. نو هغه به هغه کار راڅرګند کړی اَوُ هغه اور به په خپله دَ هر يو
کار وآزمئی، چه څنګه دے. ۱۴ دَ چا مانړئ چه په هغه بُنياد شوے، باقی به پاتے
شی اَوُ هغه به اَجر بيا مُومی. ۱۵ اَوُ چه دَ چا مانړئ وسوزيږی نو هغه به نُقصان
ومُومی، خو په خپله به په سوزيدو کښے بچ شی.

۱۶ آيا تاسو خبر نۀ يئ چه تاسو دَ خُدائے کور يئ اَوُ دَ خُدائے رُوح په تاسو
کښے اوسی؟ ۱۷ که څوک دَ خُدائے کور برباد کړی نو خُدائے به هغه برباد
کړی ځکه چه دَ خُدائے کور پاک دے اَوُ هغه تاسو يئ.

۱۸ هيڅوک دِ خپل ځان ونۀ غُلوی. که څوک په تاسو کښے په دے جهان ځان
حکيم ګڼی نو ځان دِ ناپوهه کړی چه حکيم شی. ۱۹ ځکه چه دَ دُنيا حِکمت دَ
خُدائے په نزد بے وقُوفی ده، لکه چه ليکلی دی چه : ”هغه حکيمان دَ هغوئ په



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چالاکۍ راګیروی.“ ⁽٢٠⁾ اَؤ دا هم چه : ”خُدائے دَ حکیمانو په خیالُونو پوهه دے
چه باطل دی.“ ⁽٢١⁾ نو بیا دِ په انسان څوک فخر ونۀ کړی، ولے چه هر څۀ
ستاسو دی. ⁽٢٢⁾ که پولوس وی اَؤ که اپولوس، که پطروس، که دُنیا، که ژوند
وی که مرګ، که اوسنی څیزُونه وی که راتلُونکی، هر څۀ ستاسو دی. ⁽٢٣⁾ اَؤ
تاسو دَ مسیح یئ اَؤ مسیح دَ خُدائے دے.

## دَ رسُولانو خدمت

**۴** ⁽١⁾ هر څوک دِ مُونږ دَ مسیح خادم اَؤ دَ خُدائے دَ رازُونو مُختار وګنی. ⁽٢⁾
اَؤ دلته په مُختار کښے دا خبره په کار ده چه هغه دِ دیانتدار وی. ⁽٣⁾ خو زما دَ
پاره دا هیڅ خبره نۀ ده چه تاسو یا بل اِنسانی عدالت دِ زما جاج واخلی، بلکه زَۀ
په خپله هم دَ ځان جاج نۀ آخلم. ⁽۴⁾ نو زما زړۀ ما نۀ ملامتوی خو په دے زَۀ
رښتُونے کیږم نه، بلکه زما مالِک زما جاج آخلی. ⁽٥⁾ نو دَ وخت نه وړاندے
فیصله مه کوئ بلکه دَ مالِک دَ بیا راتلو اِنتظار کوئ. هغه به دَ تیارے پټے
خبرے ظاهرے کړی اَؤ دَ زړُونو خیالُونه به ظاهر کړی اَؤ هغه وخت به دَ هر چا
تعریف دَ خُدائے له طرفه کیږی.

⁽٦⁾ اَئے ورُونړو، ما په دغه خبرو کښے دَ خپل اَؤ دَ اپولوس ذکر دَ مِثال په طور
وکړو دَ دے دَ پاره چه تاسو زمُونږ په وسیله دا زده کړئ. دَ لیک نه زیات مه
وایئ اَؤ دَ یو په تائید کښے دَ بل په خِلاف څۀ ونۀ وایئ. ⁽٧⁾ نو په تاسو کښے
فرق څوک کوی؟ اَؤ تا څخه کُوم داسے څیز دے چه هغه تا دَ خُدائے نه نۀ وی
مُوندلے؟ اَؤ چه تا دَ خُدائے نه ومُوندلو نو بیا فخر دَ څۀ خبرے لکه تا ونۀ
ومُوندل؟

⁽٨⁾ تاسو خو اوس هم ماړۀ شوی یئ اَؤ شتمن یئ اَؤ تاسو بادشاهان شوئ. څۀ
اَفسوس چه تاسو زمُونږ نه بغیر بادشاهان شوئ، چه مُونږ هم درسره بادشاهی



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړے وے! ⁽⁹⁾ زما په خيال چه خُدائے مُونږ رسُولان دَ ټولو نه عاجزان کړلُو اَوُ
دَ هغه خلقو په شان ئے پيش کړُو په چا چه دَ وژلو حُکم شوے وی، ولے چه
مُونږ دَ ټولے دُنيا، يعنے فرښتو اَوُ دَ بنی آدمو په وړاندے يوه تماشه شوُو. ⁽¹⁰⁾
مُونږ دَ مسيح په خاطر بے وقوف يُو، خو تاسو په مسيح کښے هوښيار يئ! مُونږ
کمزوری يُو اَوُ تاسو زوره ور! تاسو عزتمن يئ اَوُ مُونږ سپک! ⁽¹¹⁾ مُونږ تر اوسه
وږی، تږی، بربنډ يُو اَوُ په سُوکُونو وهلے کيږو اَوُ بے درکه ګرزُو، ⁽¹²⁾ اَوُ په
خپلو لاسُونو خواری کوُو. خلق په مُونږ بد وائی، مُونږ ورته دُعا کوُو، هغوئ مو
تنګوی، مُونږ ئے زغمو، ⁽¹³⁾ هغوئ مو بدناموی، مُونږ منت زاری کوُو. مُونږ تر
ننئ ورځے دَ دُنيا دَ ډيران اَوُ دَ ټولو خيژُونو دَ ګرد په شان پاتے شوی يُو.

⁽¹⁴⁾ زَهٔ دا خبرے ستاسو دَ شرمولو دَ پاره نهٔ ليکم بلکه خپل خواږهٔ فرزندان مو
ګڼم اَوُ تاسو ته نصيحت کوم. ⁽¹⁵⁾ ولے چه که په مسيح کښے ستاسو اُستاذان
په زرګُونو هم وی نو بيا هم ستاسو پلارُونه ډير نهٔ دی، ځکه چه زَهٔ دَ زيری په
وسيله په عيسىٰ مسيح کښے ستاسو پلار جوړ شوم. ⁽¹⁶⁾ نو زَهٔ تاسو ته زاری
کوم چه زما په شان شئ. ⁽¹⁷⁾ دَ دے دَ پاره ما تاسو ته تيموتيوس دروليږلو، هغه
په مالِک کښے زما خوږ اَوُ ديانتدار زوئے دے، اَوُ زما هغه طريقے چه په مسيح
کښے دی، تاسو ته به دريادے کړی لکه چه زَهٔ په هر ځائے کښے اَوُ په هر
جماعت کښے تعليم ورکوم.

⁽¹⁸⁾ ځنے داسے لافے کوی چه زَهٔ ګنی تاسو ته درتلے نه شم. ⁽¹⁹⁾ خو که
مالِک وغوښتل نو زَهٔ به تاسو ته زر درشم اَوُ دا خبره به معلُومه کړم چه دا
کبرژن خلق تشے خبرے کوی يا څهٔ کولے هم شی. ⁽²⁰⁾ ځکه چه دَ خُدائے
بادشاهت په خبرو نه، بلکه په قُدرت ولاړ دے. ⁽²¹⁾ نو تاسو څهٔ غواړئ چه زَهٔ
کوتک په لاس درشم يا په مينه اَوُ نرمئ؟



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دَ بد اَخلاقئ په خِلاف حُکم

**۵** ⑴ ما ته خبر رارسیدلے دے چه په تاسو کښے حرام کاری کیږی، بلکه داسے حرام کاری چه په غیرو قومونو کښے هم نهٔ کیږی. په تاسو کښے یو سړے دے چه دَ هغهٔ دَ خپلے میرنئ مور سره ناجائزه تعلقات دی. ⑵ اَؤ تاسو پرے غمژن نهٔ شوئ چه چا چه دا کار کړے دے، تاسو هغه وشړئ بلکه فخر کوئ. ⑶ زهٔ اګر که په جسمانی طور موجُود نهٔ یم خو په رُوحانی طور موجُود یم. ګنی دَ موجُودګئ په حالت کښے مے په داسے کار کوُونکی زمُونږ دَ مالِک عیسیٰ په نُوم دا حُکم کړے دے، ⑷ چه هر کله چه تاسو جمع کیږئ نو ګنی چه زهٔ په رُوح کښے تاسو سره موجُود یم، نو زمُونږ دَ مالِک مسیح دَ قُدرت مدد واخلئ، ⑸ نو دَ داسے سړی وجُود دَ هلاکت دَ پاره شیطان ته وسپارئ، دَ دے دَ پاره چه دَ هغهٔ رُوح دَ مالِک په ورځ خلاصُون بیا مُومی.

⑹ ستاسو فخر کول ښهٔ خبره نهٔ ده. آیا تاسو نهٔ یئ خبر چه لږه شان خمبیره ټول اخښلی اوړهٔ خمبیره کوی؟ ⑺ زړه خمبیره وباسئ، ځانُونه پاک کړئ چه تاسو تازه اخښلی اوړهٔ جوړ شئ ځکه چه تاسو بے خمبیرے یئ، ولے چه زمُونږ هم دَ فسح ګډُوړے، یعنے دَ مسیح قُربانی وشوه. ⑻ نو راځئ چه مُونږ اختر وکړُو، نهٔ په زړه خمبیره اَؤ نهٔ دَ بدئ اَؤ دَ شرارت په خمبیره بلکه په صفا زړهٔ اَؤ دَ رښتیاؤ په بے خمبیرے ډوډئ باندے.

⑼ ما په خپل خط کښے تاسو ته دا لیکلی وُو چه دَ حرام کارو سره ناسته پاسته مه کوئ. ⑽ دا خو نه چه تاسو بیخی دَ دُنیا دَ حرام کارو یا لالچیانو یا ظالمانو یا بُت پرستانو سره ملاویدل پریږدئ، ولے چه دغه شان خو به تاسو ته هڅو دَ دُنیا نه وتل وُو. ⑾ نو ما خو په حقیقت کښے تاسو ته دا لیکلی وُو چه که څوک ځان ته ورور وائی اَؤ حرام کار یا حرصناک یا بُت پرست یا کنځل مار یا شرابی یا ظالم وی نو دَ هغهٔ سره ناسته پاسته مه کوئ بلکه دَ داسے کس سره



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ېوړئ قدرے هم مه خورئ.

⑫ څکه چه په بے ایمانانو دَ حُکم کولو زما څۀ کار دے؟ خو آیا داسے نۀ ده
چه تاسو په ایماندارانو حُکم کوئ؟ ⑬ خو په بے ایمانانو خُدائے حُکم کوی.
”نو بیا هغه بد سړے دَ مینځه وباسئ.“

## دَ بے دینو په مخ کښے مُقدمه

**۶** ① آیا په تاسو کښے دا جُرات څنګه وشو چه هر کله چه ستاسو دَ بل چا
سره جګړه وی نو دَ فیصلے دَ پاره بے دینه خلقو ته ځئ اَؤ پاکانو ته نۀ ځئ؟
② آیا تاسو نۀ پوهیږئ چه پاکان به دَ دُنیا اِنصاف کوی؟ نو چه تاسو ته دَ دُنیا
اِنصاف کول دی نو ولے تاسو دَ معمُولی نه معمولی جګړو دَ فیصله کولو جوګه
هم نۀ یئ څۀ؟ ③ آیا تاسو نۀ ئے خبر چه مُونږ به دَ فرښتو اِنصاف کوُو؟ نو بیا
به تاسو عامے مُقدمے نۀ شئ فیصله کولے څۀ؟ ④ نو که په تاسو کښے
عامے مُقدمے وی نو آیا تاسو به هغه مُنصفان مُقرروئ چه په جماعت کښے
سپک ګڼلے شی څۀ؟ ⑤ زۀ تاسو ته دَ شرمولو دَ پاره دا وایم چه آیا په تاسو
کښے یو هم څوک هوښیار سړے نِشته چه هغه دَ دوؤ وروڼو په مینځ کښے
فیصله وکړے شی؟ ⑥ بلکه په ورُونو کښے مُقدمے کیږی اَؤ هغه هم دَ بے
دینو خلقو په وړاندے.

⑦ خو په اصل کښے په تاسو کښے لویه کمزوری دا ده چه په خپلو کښے
مُقدمے کوئ. ظُلم زغمل ولے غوره نۀ ګڼئ؟ خپل نقصان ولے نۀ قبلوئ؟ ⑧
بلکه تاسو ظُلم کوئ اَؤ نُقصان وررسوئ، اَؤ هغه هم خپلو ورُونو ته! ⑨ آیا
تاسو خبر نۀ یئ څۀ چه بدکاران به دَ خُدائے دَ بادشاهئ وارثان نۀ شی؟ ځان مه
غُلوئ، نۀ به حرام کاران دَ خُدائے دَ بادشاهئ وارثان شی، نۀ بُت پرستان، نۀ
زِناکاران، نۀ عیاش، نۀ بچه بازان، ⑩ نۀ غلۀ، نۀ حرصناک، نۀ شرابیان، نۀ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کنځل مار اَؤ نۀ تګان. ⑪ اَؤ په تاسو کښے ځنے هم دغه شان وُو خو تاسو دَ
مالِک عیسیٰ مسیح په نُوم اَؤ زمُونږ دَ خُدائے په رُوح ووینځلے شوئ، بلکه پاک
شوئ، صادِق هم شوئ.

## دَ خپل بدن نه دَ خُدائے جلال ښکاره کړئ

⑫ ټول څیزُونه زما دَ پاره روا خو دی ولے ټول څیزُونه فائده مند نۀ دی. ټول
څیزُونه زما دَ پاره روا خو دی ولے زۀ به دَ یو څیز هم غُلام نۀ یم. ⑬ خوراک
دَ خیټے دَ پاره دے اَؤ خیټه دَ خوراک دَ پاره، خو خُدائے به هغه دواړه ختم
کړی. ولے بدن دَ حرامکارئ دَ پاره نۀ دے بلکه دَ مالِک دَ پاره دے، اَؤ مالِک دَ
بدن دَ پاره دے چه ټول حاجتُونه پُوره کړی. ⑭ خُدائے مالِک هم بیا ژوندے
کړو اَؤ مُونږ به هم په خپل قُدرت بیا ژوندی کړی.

⑮ آیا تاسو خبر نۀ یئ څۀ؟ چه ستاسو بدنُونه دَ مسیح اندامُونه دی؟ آیا دا
مناسب دی چه زۀ دَ مسیح اندامُونه دَ یوے کنجرئ سره ګډ کړم؟ نه، هیڅ کله نه!
⑯ آیا تاسو نۀ یئ خبر چه هر هغه څوک چه کنجرئ ته لاړ شی نو هغه دَ هغے
سره یو وجُود شی؟ ځکه چه صحیفے وائی چه : "نر اَؤ ښځه به دواړه یو وجُود
شی." ⑰ اَؤ څوک چه دَ مالِک سره یووالے لری، هغه اَؤ مالِک به یو رُوح شی.
⑱ دَ حرام کارئ نه تښتئ! سړے چه څومره نور ګُناهُونه کوی هغه دَ بدن نه
بهر دی خو حرام کار دَ خپل بدن هم ګُناهګار دے. ⑲ آیا تاسو نۀ ئے خبر چه
ستاسو بدن دَ رُوحُ القُدس کور دے چه په تاسو کښے اوسی اَؤ تاسو ته دَ
خُدائے دَ طرف نه درکړے شوے دے؟ اَؤ تاسو دَ خپل ځان نۀ یئ، ⑳ ځکه
چه خُدائے تاسو په بیعه آخستی یئ، نو بیا دَ خپل بدن نه دَ خُدائے جلال ښکاره
کړئ.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دَ وادهٔ په حق کښے مسئلے

۷ ⓵ کُومے خبرے چه تاسو ليکلی دی دَ هغے په حقله دا ده چه دَ سړی دَ پاره دا غوره ده چه وادهٔ ونهٔ کړی. ⓶ خو دَ حرام کارئ دَ ويرے نه دِ هر سړے خپله ښځه اَؤ هره ښځه دِ خپل خاوند وساتی. ⓷ خاوند دِ دَ خپلے ښځے حق پُوره کوی اَؤ دغه شان دِ ښځه دَ خپل خاوند. ⓸ ښځه دَ خپل بدن واکمنه نهٔ ده بلکه خاوند دے. همدغه شان خاوند دَ خپل بدن واکمن نهٔ دے بلکه ښځه ده. ⓹ تاسو دَ يو بل نه جُدا مه اوسيږئ خو دَ لږ وخت دَ پاره دَ يو بل په رضا دَ دے دَ پاره چه دَ دُعا فرصت ومُومئ، اَؤ بيا يو ځائے شئ، داسے نهٔ وی چه دَ نفس دَ غلبے په وجه شيطان تاسو وغُلوی.

⓺ خو زَهٔ تاسو ته دَ دے اِجازت درکوم خو حُکم نه. ⓻ اَؤ زَهٔ خو دا غواړم چه ټُول هم داسے وی لکه چه زَهٔ يم، هغسے دِ هر څوک وی خو هر چا ته له خُدائے نه خاص خاص توان ورکړے شوے دے، چا ته څنګه اَؤ چا ته څنګه.

⓼ نو زَهٔ هغه چا ته چه وادهٔ نهٔ وی کړے اَؤ کونډو ته دا وايم چه دَ هغوئ دَ پاره زما په شان پاتے کيدل غوره دی. ⓽ خو که هغوئ صبر نهٔ شی کولے نو وادهٔ دِ وکړی ځکه چه وادهٔ کول دَ مستئ نه غوره دی.

⓾ خو چه دَ چا وادهٔ شوے وی هغوئ ته، زَهٔ نه، بلکه مالِک حُکم ورکوی چه ښځه دِ خپل خاوند پرے نهٔږدی. ⑪ اَؤ که ئے پرېږدی نو يا خو دِ وادهٔ ونهٔ کړی يا دِ دَ خپل خاوند سره بيا يو ځائے شی، اَؤ خاوند دِ هم خپله ښځه طلاقه نهٔ کړی.

⑫ نورو ته هم زَهٔ وايم، نه چه مالِک، چه که دَ چا ورور ښځه ايمانداره نهٔ وی اَؤ دَ هغهٔ سره په آستوګنه راضی وی نو هغه دِ هغه طلاقه نهٔ کړی. ⑬ اَؤ دَ کُومے ښځے چه خاوند ايماندار نهٔ وی اَؤ دَ هغے سره په آستوګنه راضی وی نو



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه دِ خاوند طلاق نۀ کړی ۝١٤ ځکه چه کُوم خاوند چه ایماندار نۀ وی، هغه دَ
ښځې په وجه پاک ګڼلے شی اَوْ کُومه ښځه چه ایمانداره نۀ وی، هغه دَ ایماندار
خاوند په وجه پاکه ګڼلے شی، ګنی ستاسو بچی به ناپاک وُو خو اوس پاک دی.
۝١٥ خو ځوک چه بے ایمانه وی که هغه دَ خپل خاوند یا خپلے ښځے نه ځی
نو پرېږدئ چه لاړ شی. په داسے حالت کښے ځوک ورور یا خور پابند نۀ دے،
اَوْ خُدائے مُونږ دَ سلامتئ دَ پاره رابللی یُو. ۝١٦ ولے چه اَئے ښځے! تۀ څۀ
خبره یئے، کیدے شی چه تۀ خپل خاوند بچ کړے. اَوْ اَئے سړیه! تۀ څۀ خبر
یئے، کیدے شی چه تۀ خپله ښځه بچ کړے.

## دَ مالِک نه ټاکلے شوے ژوندُون

۝١٧ خو څنګه چه مالِک هر یو ته توان ورکړے دے اَوْ څنګه چه خُدائے هر یو
رابللے دے، هغه دِ هغه شان ګُزران کوی، اَوْ زۀ ئے په ټولو جماعتُونو کښے په
دغه شان مُقرروم. ۝١٨ که ځوک سُنت شوے خُدائے رابللے وی نو هغه دِ خپل
ځان دَ ناسُنت شوی په شان نۀ ښکاره کوی، اَوْ که ځوک ناسُنت شوے خُدائے
رابللے وی نو هغه دِ خپل ځان نۀ سُنت کوی. ۝١٩ ځکه چه سُنت شوے اَوْ نا
سُنته داوړه هیڅ خیز نۀ دی بلکه دَ خدائے په حُکمونو عمل کول هر څۀ دی. ۝٢٠
هر ځوک چه په کُوم حالت کښے بللے شوے وی، په هغۀ کښے دِ پاتے شی.
۝٢١ که تۀ په غُلامئ کښے رابللے شوے وے نو پرواه مه کوه، خو که تۀ
آزادیدے شے نو هغه اِختیار کړه. ۝٢٢ ځکه چه ځوک چه دَ غُلامئ په حالت
کښے دَ مالِک رابللے شوے دے، هغه دَ مالِک آزاد کړے شوے دے. که ځوک
آزاد دَ مالِک رابللے شوے دے، هغه دَ مسیح غُلام دے. ۝٢٣ تاسو په بیعه
آخستے شوی یئ، دَ اِنسان غُلامان مه جوړیږئ. ۝٢٤ اَئے ورُونو! ځوک چه په
کُوم حالت کښے رابللے شوے وی، هغه دِ په هغه حالت کښے دَ خُدائے سره
پاتے شی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## پیغلے اَؤ کُونډے

٢٥ ځوک چه وادهٔ شوی نهٔ دی، دَ هغوئ په باب کښے ما سره دَ مالِک څهٔ حُکم نِشته، خو زَهٔ خپله رائے درکوم لکه ځوک چه پرے دَ مالِک رحم شوے دے، چه ایماندار شی.

٢٦ نو دَ موجوده نازکو حالاتو په وجه زما په خیال کښے دَ هر چا دَ پاره دا غوره ده چه څنګه چه دَئے وی، هم هغسے دِ پاتے شی. ٢٧ که ستا ښځه وی نو هغے له دَ طلاق ورکولو کوشِش مه کوه اَؤ که ښځه دِ نهٔ وی نو دَ وادهٔ کولو خیال پرېږده. ٢٨ خو که تهٔ وادهٔ هم وکړے نو څهٔ ګُناه نِشته، اَؤ که پیغله وادهٔ شی نو هم ګُناه نِشته، خو داسے خلق به جسمانی تکلیف بیا مُومی اَؤ زَهٔ تاسو بچ کول غواړم.

٢٩ خو اَئے ورُونړو، زَهٔ دا وایم چه وخت لنډ دے نو دَ وړاندے دَ پاره په کار دی چه دَ ښځو خاوندان دِ داسے وی لکه چه دَ هغوئ ښځے نِشته، ٣٠ اَؤ ژړیدُونکی دِ داسے وی لکه چه ژاړی نه، اَؤ ځوک چه خوشحالی کوی، هغوئ دِ داسے وی لکه چه خوشحالی نهٔ کوی، اَؤ آخستُونکی دِ داسے وی لکه چه مال نهٔ لری، ٣١ اَؤ عیش کوُونکی دِ تش په دُنیا مئین نهٔ وی ځکه چه دُنیا تیریدُونکے ده.

٣٢ نو زَهٔ دا غواړم چه تاسو بے غمه اوسئ. لونډ سړے دَ مالِک په فکر کښے وی چه څنګه به مالِک راضی کړی. ٣٣ خو وادهٔ کړے سړے دَ دُنیا په فکر کښے وی چه څنګه به خپله ښځه راضی کړی، ٣٤ اَؤ دوه زړیه شی. نا وادهٔ شوے اَؤ پیغله دَ مالِک په فکر کښے اوسیږی چه دَ هغے بدن اَؤ رُوح دواړه پاک وی، خو وادهٔ شوے ښځه دَ دُنیا په فکر کښے اوسیږی چه څنګه به خپل خاوند راضی کړی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۵ دا ستاسو دَ فائدے دَ پاره وایم، نهٔ چه ستاسو دَ ګیرولو دَ پاره بلکه دَ دے دَ پاره چه څهٔ چه ښهٔ وی، په هغے عمل وشی اَؤ تاسو دَ مالِک په خدمت کښے بے وسوسے آخته اوسئ.

۳۶ اَؤ که څوک دا ګنی چه زَهٔ دَ خپلے هغے پیغلے حق وهم دَ چا ځوانی چه خرابیږی اَؤ زلمی دَ وادهٔ ضرورت هم ګنی نو اِختیار ئے دے. په دے کښے ګُناه نِشته، هغوئ دِ وادهٔ وکړی ۳۷ اَؤ هغه زلمی چه څهٔ ضروری نهٔ ګنی اؤ اِراده ئے کړے وی بلکه دَ خپلے اِرادے په پوره کولو وَس هم لری چه زَهٔ به خپله پیغله نهٔ وادهٔ کوم نو هغه ښهٔ کوی. ۳۸ نو څوک چه خپله پیغله وادهٔ کوی هغه ښهٔ کوی، اَؤ څوک ئے چه نهٔ وادهٔ کوی هغه لا ښهٔ کوی.

۳۹ تر څو چه دَ یوے ښځے خاوند ژوندے دے هغه دَ هغهٔ پابنده ده، خو هر کله چه دَ هغے خاوند مړ شی نو دَ چا سره ئے چه زړهٔ غواړی وادهٔ کولے شی خو تش دَ ایماندار سره. ۴۰ خو لکه څنګه چه ده، که هغه شان پاتے شی نو زما په خیال کښے زیاته بختوره ده، اَؤ زما خیال دے چه دَ خُدائے رُوح په ما کښے هم دے.

## دَ بُتانو دَ قُربانئ غوښے خوړلو په باب کښے

۸ ۱ اوس دَ بُتانو دَ قُربانئ په حقله دا دے چه مُونږ خبر یُو چه مُونږ ټول عِلم لرُو، خو عِلم کبر پیدا کوی لیکن مینه دَ ترقئ باعث ده. ۲ که څوک دا ګنی چه زَهٔ په څهٔ پوهیږم نو څنګه چه پوهیدل په کار دی هغسے پرے تر اوسه نهٔ پوهیږی. ۳ خو څوک چه دَ خُدائے سره مینه لری خُدائے هغه پیژنی.

۴ نو دَ بُتانو دَ قُربانئ دَ غوښے دَ خوراک په باب مُونږ پوهیږُو چه بُت په دُنیا کښے هیڅ شے نهٔ دے اَؤ سیوا دَ یو نه بل خُدائے نِشته. ۵ سره دَ دے چه په



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مزکه اَوْ په آسمان ډیر خُدایان بللے شی، دغه شان ډیر خُدایان اَوْ مالِکان دی.
۶ خو زمُونږ خو یو خُدائے دے، یعنے خُدائے پلار، چه دَ چا له طرف نه ټول
څیزُونه دی اَوْ مُونږ دَ هغهٔ دَ پاره ژوندی یُو، اَوْ یو مالِک دے، یعنے عیسیٰ مسیح
دَ چا په وسیله چه دا ټول څیزُونه پیدا شول اَوْ مُونږ هم دَ هغهٔ په وسیله ژوندی
یُو. ۷ خو ټولو ته دا پته نِشته بلکه دَ ځنو خو اوس هم دَ بُت پرستئ عادت دے،
دَ دے دَ پاره هغه غوښه دَ بُت قُربانی گڼی اَوْ خوری ئے اَوْ دَ هغوئ زړهٔ چه
کمزورے دے، هغه په خوراک پلیت شی. ۸ خوراک به مُونږ دَ خُدائے سره نهٔ
نزدے کوی. که وئے نهٔ خورُو نو زمُونږ هیڅ نُقصان نِشته اَوْ که وئے خورُو نو
هیڅ گټه مُو نِشته.

۹ خو پام کوئ، داسے نهٔ وی چه ستاسو آزادی په ایمان کښے دَ کمزورو دَ
پاره دَ تیندک باعث نهٔ شی. ۱۰ ځکه که هغه سړے چه په ایمان کښے
کمزورے دے، ستا په شان دَ عِلم خاوند په بُت خانه کښے په خوراک ووینی نو
آیا هغه به زړهٔ ور نهٔ شی چه دَ بُتانو دَ قُربانئ غوښه وخوری؟ ۱۱ مطلب دا چه
ستا دَ عِلم په وجه به هغه کمزورے سړے، یعنے هغه ورور چه دَ چا دَ پاره چه
مسیح مړ شو، هغه به هلاک شی. ۱۲ اَوْ دغه شان تاسو به دَ ورُوڼو گُناه گار
شئ اَوْ دَ هغوئ کمزورے زړهٔ به ژوبل کړئ اَوْ دَ مسیح گُناه گار به وگرزئ. ۱۳
په دے وجه که زما دَ خوراک په وجه زماورور تیندک خوری نو زهٔ به هیڅ کله
هم غوښه ونهٔ خورم چه دَ خپل ورور دَ پاره دَ تیندک سبب ونهٔ گرزم.

## دَ رسُول اِختیار

۹ ۱ ولے زهٔ آزاد نهٔ یم څهٔ؟ رسُول نهٔ یم څهٔ؟ ما عیسیٰ نه دے لیدلے چه
زمُونږ مالِک دے څهٔ؟ تاسو په مالِک کښے زما دَ خدمت میوه نهٔ یئ څهٔ؟ ۲
که زهٔ دَ نورو دَ پاره رسُول نهٔ یم نو ستاسو دَ پاره خو بیشکه یم ځکه چه تاسو په
خپله په مالِک کښے زما په رسالت مُهر یئ.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳ څوک چه زما آزمېښت کوی هغوئ ته زما دغه جواب دے، ۴ آیا مُونږ ته
دَ خوراک څښاک اِختیار نِشته څۀ؟ ۵ مُونږ ته دا اِختیار نِشته څۀ لکه څنګه
چه نور رسُولان اَؤ دَ مالِک ورُونړه اَؤ کیفا کوی، مُونږ هم څوک ایمانداره خور په
نِکاح واخلُو اَؤ دَ ځان سره ئے وګرزوُو؟ ۶ یواځے زۀ اَؤ برنبا دَ ژوند تیرولو دَ
پاره په خوارئ مزدُورئ پرِ یُو څۀ؟ ۷ آیا تاسو دَ داسے فوځی په حقله آؤریدلی
دی چه په فوځ کښے نوکری کوی اَؤ دَ خپله جیبه خوری؟ څوک داسے دے چه
دَ انګُورو باغ ولګوی اَؤ میوه ئے نۀ خوری څۀ؟ یا څوک چه رمه څروی نو دَ
هغے پئ نۀ څښی څۀ؟

۸ آیا زَۀ دا خبره دَ بنی آدم دَ قیاس په مُطابق کوم؟ یا تورات داسے نۀ وائی؟
۹ لکه چه دَ مُوسیٰ په تورات کښے لیکلی دی چه : "په غویل کښے دَ غوائی
خُلے ته کورے مه اچوه." ولے ستاسو دا خیال دے چه خُدائے دَ غوایانو فکر
کوی څۀ؟ ۱۰ یا خاص زمُونږ دَ پاره فرمائی؟ هو، دا ئے زمُونږ دَ پاره لیکلی دی
ځکه چه مُناسب دی چه قُلبه کوُونکے په اُمید قُلبه وکړی اَؤ غویل کوُونکے دِ دَ
برخے دَ مُوندلو په اُمید غویل کوی. ۱۱ نو بیا چه مُونږ ستاسو دَ پاره رُوحانی
څیزُونه وکرِل نو آیا دا څۀ لویه خبره ده چه مُونږ ستاسو دَ مادی څیزُونو فصل
وریبو؟ ۱۲ چه دَ نورو په تاسو دا اِختیار شته نو آیا زمُونږ به دَ دے نه زیات نۀ
وی څۀ؟

خو مُونږ دَ دے اِختیار نه کار وانۀ خستو خو مُونږ دَ هر څیز زغم کوُو چه زمُونږ
له کبله دَ مسیح په زیری کښے څۀ حرج نۀ وی. ۱۳ آیا تاسو نۀ یئ خبر چه
څوک چه دَ خُدائے دَ کور خدمت کوی، هغه دَ خُدائے دَ کور دَ نزرانے نه
خوری اَؤ څوک چه دَ قُربانګاه خدمتګار دی، هغوئ دَ قُربانئ حصه مُومی؟ ۱۴
دغه شان مالِک هم مُقرر کړی دی چه دَ زیری آؤرؤونکے دِ دَ زیری په وسیله
ګُزاره کوی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۵ خو ما خپل دَ دے حق نه چرے هم فائده وانهٔ خسته اَؤ نهٔ مے دا دَ دے دَ
پاره ولیکل چه زَهٔ دَ دے نه فائده واخلم ځکه چه زما دَ پاره دَ دے نه مړ کیدل
غوره دی. هیڅوک زما فخر بے ځایه کولے نهٔ شی. ۱۶ که زَهٔ زیرے آؤروم نو
په دی څهٔ فخر نهٔ کوم ځکه چه دا خو زما فرض دی. بلکه اَفسوس دے په ما، که
زَهٔ زیرے وانهٔ وروم! ۱۷ ځکه چه که دا په خپلے مرضئ وکړم نو زما دَ پاره
اَجر دے، خو دا خپل فرض گڼم ځکه چه خُدائے دا ما ته سپارلے دے. ۱۸ نو
بیا ما ته څهٔ اَجر ملاویږی؟ دا چه زیرے آؤروم نو مُفت ئے آؤروم، ځکه چه
کُوم اِختیار چه ما ته دَ زیری په حقله حاصل دے دَ هغے په مُطابق دَ خپل حق
نه پُوره فائده وانهٔ خلم.

۱۹ اګر که زَهٔ دَ ټولو خلقو نه آزاد یم بیا هم ما ځان دَ ټولو خلقو غُلام کړو، دَ
پاره دَ دے چه نور زیات خلق دَ مسیح دَ پاره راکښم. ۲۰ زَهٔ دَ یهُودیانو دَ پاره
یهودی شوم چه یهودیان راکښم. ځکه چه هغوئ دَ مُوسیٰ دَ شریعت منُونکی دی،
دَ هغوئ دَ رااړولو دَ پاره ما ځان دَ هغوئ دَ شریعت په شان کړو، سره دَ دے چه
زَهٔ دَ هغوئ دَ شریعت دَ لاندے نهٔ یم. ۲۱ دَ غیر یهودیانو دَ پاره دَ غیر یهُودیانو په
شان شوم چه غیر یهُودیان دَ مسیح دَ پاره راکښم، سره دَ دے چه دَ خُدائے په
نزد بے شرعے نهٔ یم بلکه دَ مسیح په شریعت یم. ۲۲ دَ کمزورو دَ پاره
کمزورے شوم چه کمزورے راکښم. زَهٔ دَ ټولو خلقو دَ پاره هر څهٔ جوړ شوم چه
په څهٔ نه څهٔ سبب ځنے بچ کړم.

۲۳ اَؤ زَهٔ هر څهٔ دَ زیری دَ خاطره کوم چه زَهٔ ټول دَ هغهٔ برکتُونه حاصل کړم.
۲۴ آیا تاسو نهٔ یئ خبر چه په منډه کښے منډے خو ټول وهی ولے اِنعام یو
ګټی؟ تاسو هم داسے منډه ووهئ چه وئے ګټئ. ۲۵ اَؤ هر یو لوبغاړے دِ هر
قِسم پرهیز کوی. هغه خلق خو دا څهٔ دَ هغه سهرے دَ پاره کوی کُومه چه مړاوے
کیږی، خو مُونږ ئے دَ هغه سهرے دَ پاره کوُو چه مړاوے کیږی نه. ۲۶ نو بیا
زَهٔ هم دَ یو خاص مقصد په شکل کښے دغه شان منډه وهم، زَهٔ دغه شان په



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سُوکونو جنګ کوم خو دَ هغهٔ په شان نه چه باد په سُوکُونو وهی. ﴿۲۷﴾ بلکه زَهٔ خپل ځان وهم ټکوم اَؤ هغه په قابُو کښې ساتم ځکه چه داسې ونهٔ شی چه نورو ته زیرے واؤروم اَؤ په خپله رد کړے شم.

## دَ بُت پرستئ خِلاف خبردارے

**۱۰** ﴿۱﴾ اَئے ورُونړو، زَهٔ تاسو دَ دے نه بے خبره پاتے کیدل نهٔ غواړم چه زمُونږ ټول پلارُونه نیکُونه دَ وریځے په حفاظت کښې وُو اَؤ ټول دَ سمندر نه پورے وتل. ﴿۲﴾ اَؤ ټولو په هغه وریځ اَؤ په هغه سمندر کښې لکه دَ مُوسیٰ بپتسمه واخسته. ﴿۳﴾ اَؤ ټولو یو خوراک وخوړلو، ﴿۴﴾ اَؤ ټولو یو اوبهٔ وڅښلے چه ورته دَ مُعجزے په طور ورکړے شوے وے ځکه چه هغوئ دَ هغه مُعجزے دَ ګټ نه اوبهٔ وڅښلے کُوم چه دَ هغوئ سره روان وو، خو په حقیقت کښې هغه ګټ مسیح وو. ﴿۵﴾ ولے په هغوئ کښې دَ ډیرو نه خُدائے راضی نهٔ وو ځکه خو بیابان دَ هغوئ دَ مړو نه ډک شو.

﴿۶﴾ دا خبرے زمُونږ دَ پاره یو سبق شوے چه مُونږ دَ خرابو څیزُونو خواهش ونهٔ لرُو لکه څنګه چه هغوئ لرلو. ﴿۷﴾ اَؤ تاسو بُت پرست مه جوړیږئ لکه چه په هغوئ کښې چه ځنے جوړ شوی وُو، لکه څنګه چه لیکلی دی چه : "خلق خوراک څښاک ته کښیناستل، بیا مستئ کولو ته پورته شول." ﴿۸﴾ اَؤ مُونږ دِ حرامکاری ونهٔ کړُو لکه څنګه چه په هغوئ کښې ځنو وکړه اَؤ په یوه ورځ کښې درویشت زره ووژلے شول. ﴿۹﴾ اَؤ مُونږ دِ دَ مالِک آزمیښت ونهٔ کړُو لکه څنګه چه په هغوئ کښې ځنو وکړو اَؤ مارانو هلاک کړل. ﴿۱۰﴾ اَؤ تاسو ونهٔ ګوریږئ لکه څنګه چه په هغوئ کښې ځنے وګُوریدل اَؤ دَ هلاکت فرښتے هغوئ هلاک کړل.

﴿۱۱﴾ په هغوئ دا خبرے زمُونږ دَ عبرت آخستو دَ پاره راغلے اَؤ زمُونږ دَ آخری



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زمانے خلقو ته دَ نصيحت دَ پاره وليکلے شوے.

۱۲ نو بيا چه څوک ځان مظبُوط ګڼی هغه دِ پوهه شی چه پرے نۀ وزی. ۱۳ اَؤ
تاسو په څۀ داسے آزميښت کښے نۀ يئ پريوتلی چه هغه دَ اِنسان دَ زغم نه بهر
وی، اَؤ خُدائے رښتُونے دے اَؤ هغه به تاسو ستاسو دَ طاقت نه په زيات
آزميښت کښے نه اچوی، بلکه دَ آزميښت سره به دَ وتلو لار هم پيدا کړی چه
تاسو ئے وزغملے شئ.

۱۴ نو خوږو ملګرو! په دے وجه دَ بُت پرستی نه تښتئ. ۱۵ زۀ تاسو هوښيار
ګڼم ځکه درسره دا خبرے کوم. زۀ چه څۀ وايم تاسو دَ هغے په خپله جاج
واخلئ. ۱۶ هغه دَ برکت پياله کُومه چه مُونږ څښُو اَؤ دَ هغے دَ پاره دَ خُدائے
شکر کوُو، آيا هغه دَ مسيح دَ وينے دَ شراکت نۀ ده څۀ؟ اَؤ هغه ډوډئ چه مُونږ
ئے ماتوُو، آيا هغه دَ مسيح دَ بدن شراکت نه دے څۀ؟ ۱۷ مُونږ ډير خو يُو، بيا
هم لکه څنګه چه يوه ډوډئ ده، هم دغه شان لکه دَ يو بدن جوړيږُو ځکه چه مُونږ
ټول په هغه يوے ډوډئ کښے شريکيږُو.

۱۸ څوک چه يهُوديان دی هغوئ ته وګورئ، چه دَ قُربانئ غوښه خوری، هغوئ
په قُربان ګاه کښے شريک نۀ دی څۀ؟ ۱۹ نو بيا زۀ دا وايم چه دَ بُت قُربانی څۀ
وی؟ اَؤ بُت څۀ دے؟ ۲۰ نه، بلکه دا وايم چه کُومے قُربانئ چه غير يهُوديان
کوی، شيطانانو ته قُربانی کوی، نۀ چه خُدائے ته، اَؤ زۀ دا نۀ غواړم چه تاسو دَ
شيطانانو سره شريک شئ. ۲۱ تاسو دَ مالِک دَ پيالے نه اَؤ دَ شيطانانو دَ پيالے
نه نۀ شئ څښلے، دَ مالِک په دسترخوان اَؤ دَ شيطانانو په دسترخوان کښے نۀ
شئ شريکيدے. ۲۲ آيا مُونږ مالِک غُصه کوُو څۀ؟ آيا مُونږ دَ هغۀ نه زوره ور يُو
څۀ؟



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دَ خُدائے دَ لوئی دَ پاره هر څۀ کوه

۲۳ هر څۀ روا دی، هو، خو هر څیز فائده مند نۀ دے. هر څۀ روا دی خو هر څیز دَ ترقئ دَ پاره ښۀ نۀ دے. ۲۴ هر یو خپلے فائدے ونۀ لټوئ بلکه دَ نورو.

۲۵ هر څۀ چه دَ قصابانو په دکانونو خرخیږی هغه خورئ اَؤ دَ ضمیر په خاطر سوال مه پورته کوئ. ۲۶ ”ځکه چه مزکه اَؤ په هغے کښے هر څیز دَ مالِک دی.“

۲۷ که څوک غیر ایماندار تاسو ته دوډئ وکړی اَؤ تاسو په تلو راضی یئ، نو هر څۀ چه درته وړاندے کیږدی هغه خورئ اَؤ دَ ضمیر دَ خاطره سوال مه پورته کوئ. ۲۸ خو که تاسو ته څوک ووائی چه دا دَ بُت دَ قُربانئ غوښه ده نو دَ هغۀ اَؤ دَ ضمیر دَ خاطره هغه مه خورئ. ۲۹ زما مطلب دا دے چه ستاسو دَ ضمیر په وجه نه خو دَ بل دَ چا.

نو دَ بل سړی ضمیر زما دَ آزادئ ولے فیصله کوی؟ ۳۰ که زَۀ ئے په شکر خورم، نو چه په کُوم څیز شکر وباسم نو بیا دَ هغے په سبب ولے بدنامولے شم؟

۳۱ نو بیا چه تاسو څۀ خورئ یا څښئ یا کوئ، هر څۀ دَ خُدائے دَ جلال دَ پاره کوئ. ۳۲ تاسو دَ یهُودیانو اَؤ یُونانیانو اَؤ خُدائے دَ جماعت دَ پاره دَ تیندک سبب مه جوړیږئ. ۳۳ ځکه چه زَۀ هم په ټولو خبرو کښے ټول خوشحالوم اَؤ نه خپله، خو دَ ډیرو فائده لټوم چه هغوئ خلاصُون بیا مُومی.

**۱۱** ۱ تاسو زما په قدم وچلیږئ لکه چه زَۀ دَ مسیح په قدم چلیږم.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## په عبادت کښې سر پټول

۲ زَۀ ستاسو تعريف کوم چه تاسو په هر خبره کښې ما يادوئ، اَؤ څنګه چه ما تاسو ته روايتُونه دروړسول تاسو هغه هم هغه شان برقرار ساتئ. ۳ نو بيا زَۀ تاسو خبرول غواړم چه دَ هر سړى سر مسيح، اَؤ دَ ښځې سر سړے، اَؤ دَ مسيح سر خُدائے دے. ۴ کُوم سړے چه په پټ سر دُعا يا نبُوت کوى هغه خپل سر بے عزته کوى. ۵ اَؤ کُومه ښځه چه سرتوره دُعا يا نبُوت کوى هغه خپله بے عزتى کوى ځکه چه هغه دَ سر خرئيلے په شان ده. ۶ که ښځه لوپټه نۀ په سر کوى نو ويښتۀ دِ هم پريکړى. که دَ ښځې دَ پاره ويښتۀ پريکول اَؤ سر خرئيل دَ شرم خبره وى نو لوپټه دِ په سر کوى. ۷ البته سړے دِ خپل سر نۀ پټوى ځکه چه هغه دَ خُدائے صُورت اَؤ دَ هغۀ دَ جلال عکس دے، خو ښځه دَ سړى جلال ده. ۸ ځکه چه سړے دَ ښځې نه نۀ دے بلکه ښځه دَ سړى نه ده.
۹ اَؤ سړے دَ ښځې دَ خاطره نه بلکه ښځه دَ سړى دَ خاطره پيدا شوه. ۱۰ نو دَ فرښتو په سبب ښځې ته په کار دى چه په خپل سر دَ اِختيار نخښه ږدى.
۱۱ خو بيا هم په مالِک کښې نۀ ښځه دَ سړى بغير ده اَؤ نۀ سړے دښځې بغير.
۱۲ ځکه لکه څنګه چه ښځه دَ سړى نه ده هم هغه شان سړے هم دَ ښځې په وسيله دے، خو ټول څيزُونه دَ خُدائے دَ طرفه دى.

۱۳ تاسو په خپله اِنصاف وکړئ چه آيا ښځې ته سرتوره دُعا کول مُناسب دى څۀ؟ ۱۴ آيا تاسو ته په طبعى طور معلُومه نۀ ده چه که دَ سړى اُوږدۀ ويښتۀ وى نو دَ هغۀ بے عزتى ده؟ ۱۵ اَؤ که دَ ښځې اُوږدۀ ويښتۀ وى نو دَ هغې ښکلا ده، ځکه چه ويښتۀ هغې ته دَ پردے دَ پاره ورکړى شوى دى. ۱۶ خو بيا هم که تاسو په بحث زور کوئ نو زَۀ به درته دا ووايم چه نۀ خو دا زمُونږ دستور دے اَؤ نۀ دَ خُدائے دَ جماعتُونو.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دَ عشا ربانی په باب کښې

متی ۲۶ : ۲۶ ـ ۲۹، مرقس ۱۴ : ۲۲ ـ ۲۵، لُوقا ۲۲ : ۱۴ ـ ۲۰

۱۷ خو دا حُکم چه درکوم په دې کښې ستاسو ستائينه نۀ کوم ځکه چه
ستاسو دَ جمع کيدلو فائده نِشته بلکه نُقصان کيږی. ۱۸ ځکه چه اول خو زَۀ دا
آؤرم چه هر کله چه ستاسو جماعت راغونډيږی نو تاسو په خپلو کښې دَ يو بل
مُخالفت کوئ اَؤ زَۀ په هغې څۀ قدر يقين هم کوم. ۱۹ ځکه چه په تاسو کښې
ډله بازی ضروری ده چه دا معلُومه شی چه په تاسو کښې څوک مقبُول دی.
۲۰ نو چه کله تاسو جمع کيږئ نو ستاسو هغه خوراک دَ عشا ربانی نۀ شی
کيدے. ۲۱ ځکه چه دَ خوراک په وخت هر سړے دَ بل نه آګاهو خپله ډوډئ
خوری، اَؤ څوک خو نهر پاتې شی اَؤ څوک په نشه شی. ۲۲ نو آيا دَ خوراک
څښاک دَ پاره ستاسو کورُونه نِشته څۀ؟ يا تاسو دَ خُدائے جماعت دومره سپک
ګڼئ چه دَ چا څخه څۀ نِشته، هغوئ شرموئ؟ زَۀ تاسو ته څۀ ووايم؟ آيا په دے
خبره ستاسو تعريف وکړم؟ زَۀ تعريف نۀ کوم.

۲۳ ځکه چه کُومې خبرې چه ما تاسو ته رسولې دی هغه ما ته دَ مالِک نه په
خپله حاصلې شوې دی، چه په کُومه شپه دَ مالِک عيسىٰ مُخبری وشوه ډوډئ
ئې واخسته، ۲۴ شکر ئې پرې ووې اَؤ ما ته ئې کړه اَؤ وئې وئيل چه "دا
زما بدن دے چه ستاسو دَ پاره دے. زما په يادګارئ کښې هم دغه شان کوئ."
۲۵ دغه شان هغۀ دَ خوراک نه پس پياله واخسته اَؤ وئې وئيل چه "دا پياله زما
په وينه کښې نوے لوظ دے. هر کله چه ئې څښئ نو زما په يادګارئ کښې
دغسې کوئ." ۲۶ نو هر کله چه تاسو دا ډوډئ خورئ اَؤ دا پياله څښئ نو دَ
مالِک دَ مرګ اظهار کوئ تر څو چه هغه را نۀ شی.

۲۷ نو دَ دے دَ پاره چه څوک په نامناسبه طريقې سره دَ مالِک ډوډئ خوری يا
دَ هغۀ دَ پيالې نه څښی، هغه به دَ مالِک دَ بدن اَؤ وينې قصور وار وی. ۲۸ نو
سړے دِ اول خپل ځان وآزميئ نو بيا دِ دَ هغه ډوډئ نه وخوری اَؤ دَ هغه پيالې نه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وښېئ. ۲۹ ځکه چه څوک چه دَ خوراک ښناک په وخت دَ مالِک بدن ونۀ پېژنی، هغه به په هغه خوراک ښناک سزا بیا مُومی. ۳۰ په دے وجه خو په تاسو کښے ډېر کمزوری اَؤ بیماران دی اَؤ ځنے مړۀ شوی دی. ۳۱ که چرے مُونږ خپل ځان و آزمیُو نو سزا به مو نۀ مُوندلے. ۳۲ خو مالِک مُونږ ته سزا دَ تربیت دَ پاره راکوی چه دَ دُنیا نورو خلقو سره مُجرمان نۀ شُو.

۳۳ زما ورُونړو، دَ دے دَ پاره چه هر کله دَ عشا رباني دَ پاره راجمع شئ نو دَ یو بل اِنتظار کوئ. ۳۴ که تاسو وږی یئ نو په کور کښے ډوډئ خورئ چه ستاسو رایوځائے کیدل دَ سزا باعث نۀ شی. نورے خبرے کله چه زۀ درشم هغه به درستے کړم.

## رُوحانی نعمتُونه

۱۲ ۱ دَ رُوحانی نعمتُونو په باب کښے زۀ نۀ غواړم چه تاسو نا خبر پاتے شئ. ۲ تاسو خبر یئ چه هر کله چه تاسو غیر قوم وئ نو چا به چه په څۀ شان په بے ژبے بُتانو پسے بوتلئ هغه شان به تلئ. ۳ په دے وجه به زۀ ضرور په تاسو تاکید وکړم چه هر څوک چه دَ رُوحُ القُدس په وسیله خبرے کوی، هغه به په عیسیٰ لعنت ونۀ وائی اَؤ بغیر دَ رُوحُ القُدس دَ وسیلے نه هیڅوک نۀ شی وئیلے چه عیسیٰ مالِک دے.

۴ نعمتُونه خو قِسما قِسم دی خو رُوح یو دے. ۵ اَؤ خدمتُونه هم قِسما قِسم دی خو مالِک یو دے. ۶ اَؤ تاثیرُونه هم قِسما قِسم دی خو خُدائے یو دے چه په ټولو کښے دَ هر قِسم اَثر پیدا کوی. ۷ خو هر چا له دَ رُوحُ القُدس ظاهرېدل دَ ټولو خلقو دَ فائدے دَ پاره ورکړے کیږی. ۸ ځکه چه یو ته دَ رُوح په وسیله دَ حِکمت کلام ورکړے شی اَؤ بل ته دَ هم هغه رُوح په وسیله دَ علمیت کلام، ۹ چا ته دَ هغه رُوح په وسیله ایمان اَؤ چا ته هم دَ هغه رُوح په سبب دَ شفا ورکولو



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

توان، ۱۰ چا ته دَ مُعجزو طاقت، چا ته نبُوت، چا ته دَ مُختلفو رُوحونو پیژندل، چا ته دَ قِسما قِسم ژبو وئیلو توان اَؤ چا ته دَ ژبو تشریح کول. ۱۱ خو دا ټول تاثیرُونه هغه یو رُوح کوی اَؤ چا ته ئے چه غواړی هغهٔ ته ئے ورکوی.

## یو بدن اَؤ ډیر اَندامُونه

۱۲ څکه لکه څنګه چه بدن یو دے اَؤ دَ هغهٔ اَندامُونه ډیر دی، اَؤ اګر که دَ بدن ټول اَندامُونه ډیر دی خو ټول سره یو بدن دے، دغه شان مسیح هم دے. ۱۳ څکه چه مُونږ ټول که یهُودیان یُو که یُونانیان، که غُلام یُو که آزاد، مُونږ ټول په یو رُوح بپتسمه شُو چه دَ یو بدن په یووالی کښے داخل شُو، اَؤ خُدائے زمُونږ ټولو په زړُونو کښے یو رُوح واچولو.

۱۴ دغه شان دَ بدن یو اَندام نهٔ دے بلکه ډیر دی. ۱۵ که چرے پښه ووائی چه زهٔ لاس نهٔ یم، دَ دے دَ پاره دَ بدن نهٔ یم، نو په دے سبب خو هغه دَ بدن نه بهر نهٔ ده. ۱۶ اَؤ که غوږ ووائی چه زهٔ سترګه نهٔ یم نو دَ بدن نه نهٔ یم، نو هغه په دے سبب خو دَ بدن نه بهر نهٔ دے. ۱۷ که چرے ټول بدن هم سترګے وے نو آؤریدل به چرته وُو؟ اَؤ که چرے ټول بدن غوږُونه وے نو بوئیول به چرته وُو؟ ۱۸ خو خُدائے په بدن کښے هر یو اَندام دَ خپلے مرضئ په مُطابق ایښے دے. ۱۹ که هغه ټول یو اَندام وے نو بدن به چرته وو؟ ۲۰ خو اوس اګر که اندامُونه ډیر دی ولے بدن یو دے.

۲۱ نو سترګه لاس ته نهٔ شی وئیلے چه زهٔ ستا مُحتاجه نهٔ یم، اَؤ نهٔ سر پښو ته وئیلے شی چه زهٔ ستاسو مُحتاج نهٔ یم. ۲۲ بلکه دَ بدن هغه اَندامُونه چه دَ نورو نه کمزوری معلُومیږی، ډیر ضروری دی. ۲۳ اَؤ دَ بدن هغه اَندامُونه چه مُونږ ئے دَ نورو په نسبت سپک ګڼُو، هم هغو ته زیات اهمیت ورکوُو، اَؤ خپل بدرنګی اَندامُونه زیات په حیا ساتُو. ۲۴ حال دا دے چه زمُونږ ښکلی اَندامُونه مُحتاج نهٔ دی. خو خُدائے بدن داسے جوړ کړے دے چه کُوم اَندام مُحتاج دے هم هغهٔ ته



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زیات اهمیت ورکړے شی، ﴿۲۵﴾ دَ پاره دَ دے چه په بدن کښے بے اِتفاقی پیدا نهٔ
شی بلکه اَندامُونه دَ یو بل برابر خیال وساتی. ﴿۲۶﴾ نو بیا که یو اَندام دړد ومُومی
نو دَ هغهٔ سره ټول اَندامُونه دړدیږی، اَؤ که چرے یو اَندام عزت مُومی نو دَ هغهٔ
سره ټول اَندامُونه خوشحالیږی.

﴿۲۷﴾ هم دغه شان تاسو ټول په یو ځائے دَ مسیح بدن یئ اَؤ بیل بیل اَندامُونه یئ.
﴿۲۸﴾ اَؤ خُدائے په جماعت کښے بیل بیل کسان مُقرر کړل، اول رسُولان، دویم
نبیان اَؤ دریم اُستاذان، بیا مُعجزے ښوُونکی، بیا شفا ورکوُونکی، مددګاران،
اِنتظام کوُونکی اَؤ قِسما قِسم ژبے ویُونکی. ﴿۲۹﴾ آیا ټول رسُولان دی څهٔ؟ آیا ټول
نبیان دی څهٔ؟ آیا ټول اُستاذان دی څهٔ؟ آیا ټول مُعجزے ښوُونکی دی څهٔ؟ ﴿۳۰﴾
آیا ټولو ته دَ شفا ورکولو طاقت ورکړے شوے دے څهٔ؟ آیا ټول قِسما قِسم ژبے
وائی څهٔ؟ آیا ټول تشریح کوی څهٔ؟ ﴿۳۱﴾ تاسو دِ دَ ټولو نه دَ لویو نعمتُونو خواهش
ولرئ. خو اوس به ئے زهٔ تاسو ته دَ ټولو نه غوره طریقه وښایم.

## مینه

۱۳ ﴿۱﴾ که چرے زهٔ دَ فرښتو اَؤ دَ بنی آدمو په ژبه خبرے کوم اَؤ مینه نهٔ لرم
نو زهٔ ټنګیدُونکے پیتل یا شرنګیدُونکے چنچنے یم. ﴿۲﴾ که زهٔ نبوت کولے شم
اَؤ که ټول پټ حقیقت ما ته معلُوم وی اَؤ که دَ ټولو علمُونو ماهر شم اَؤ که زما
ایمان به تر دے مظبُوط وی چه غرُونه وخوزوم، خو که زهٔ مینه نهٔ لرم نو هیڅ نهٔ
یم. ﴿۳﴾ که زهٔ خپل ټول مال په خلقو وخوروم تر دے چه خپل بدن سوزولو ته
ورکړم، خو که زهٔ مینه نهٔ لرم نو هیڅ فائده نِشته.

﴿۴﴾ مینه صابره ده، مینه مهربانه ده اَؤ هیچا سره کینه نهٔ لری، مینه نهٔ خو لافے
وهی اَؤ نهٔ لوئی کوی، ﴿۵﴾ نهٔ بے ادبی کوی، نهٔ په خپل مطلب پسے ګرزی، نهٔ
غصه کوی اَؤ نهٔ بدګُمانی کوی. ﴿۶﴾ مینه دَ نورو دَ بدو حساب نهٔ ساتی اَؤ نهٔ دَ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نورو په بدکارئ خوشحالیږی بلکه په رښتیاؤ خوشحالیږی. ⑦ داسے هیڅ څیز نِشته چه مینه ئے زغملے نهٔ شی، په هر څهٔ یقین کوی، دَ هر څهٔ اُمید لری اَؤ دَ هر څهٔ زغم کوی.

⑧ دَ مینے زوال نِشته. که نبیان وی نو دَ هغوئ کار به ختم شی، که ژبے وی نو ختمے به شی، که علم وی نو فنا به شی، ⑨ ځکه چه زمُونږ علم اَؤ زمُونږ نبوت ناقِص دی. ⑩ خو کله چه کامِل راشی نو ناقِص به تیر شی. ⑪ کله چه زهٔ ماشُوم وم نو دَ ماشُومانو غوندے خبرے مے کولے، دَ ماشُومانو په شان طبیعت مے وو اَؤ دَ ماشُومانو په شان مے پوهه وه، خو هر کله چه ځوان شوم نو دَ ماشُوموالی خبرے مے پریښودلے. ⑫ اوس مُونږ ته دا په آئینه کښے تَت تَت ښکاری خو په هغه وخت به ئے مخامخ وینُو. په دے وخت زما عِلم ناقِص دے خو په هغه وخت به په پُوره طور وپیژندلے شم لکه چه خُدائے زهٔ پیژندلے یم.

⑬ لنډه دا چه ایمان، اُمید اَؤ مینه درے واړه پاتے کیږی خو په دوئ کښے مینه افضله ده.

## ژبه اَؤ نبوت کول

**۱۴** ① اول دَ مینے لټُون کوئ خو دَ نورو رُوحانی نعمتُونو هم خواهش لرئ، اَؤ دَ هغو نه خصوصاً دَ نبوت. ② څوک چه په روحانی ژبه کښے خبرے کوی نو هغه دَ خلقو سره نه، بلکه دَ خُدائے سره خبرے کوی، ځکه چه څوک دَ هغهٔ په خبره پوهیږی نه اګر که هغه دَ رُوح په وسیله دَ راز خبرے کوی. ③ خو څوک چه دَ خُدائے کلام آؤروی هغه دَ خلقو سره دَ آبادئ اَؤ نصیحت اَؤ دَ تسلئ خبرے کوی. ④ څوک چه په رُوحانی ژبه کښے خبرے کوی هغه دَ خپل ځان ترقی کوی اَؤ څوک چه نبُوت کوی هغه دَ جماعت ترقی کوی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

﴿۵﴾ زَهٔ به په دے خوشحاله يم چه تاسو ټول په رُوحانی ژبو کښے خبرے کوئ خو زيات دا غواړم چه تاسو دَ نبی په شان دَ خُدائے کلام دَ آؤرولو توان لرئ. اَؤ که رُوحانی ژبے ويُونکی دَ جماعت دَ ترقئ دَ پاره تشريح نۀ کوی نو بيشکه دَ نبی په شان کلام آؤرؤونکے دَ هغۀ نه لوئے دے. ﴿۶﴾ زما ملګرو، تاسو فرض کړئ چه کله چه زَهٔ تاسو ته درشم اَؤ په رُوحانی ژبه کښے خبرے کوم نو زَهٔ تاسو ته څۀ فائده رسوم، تر څو چه زَهٔ دَ کشف يا دَ عِلم يا دَ نبی په شان کلام يا دَ تعليم خبرے تاسو ته ونۀ کړم؟

﴿۷﴾ تر دے چه بے ساه څيزُونه هم چه دَ کُومو نه چه آواز راوزی لکه شپيلئ يا رباب، که چرے دَ هغوئ په آوازُونو کښے فرق نۀ وی نو څوک به څۀ فرق کولے شی چه کُوم يو ساز غږيږی؟ ﴿۸﴾ که چرے دَ بګل آواز صفا نۀ وی نو جنګ ته به څوک ځان تيار کړی؟ ﴿۹﴾ هم دغه شان که چرے ستاسو په خپلو ژبو کښے خبرے صفا نۀ وی نو څوک به ستاسو په هغه خبره پوهه شی؟ تاسو به تش باد ته خبرے کوئ. ﴿۱۰﴾ په دُنيا کښے څومره ژبے چه دی خو په دوئ کښے داسے يوه هم نِشته چه بے معنىٰ وی. ﴿۱۱﴾ خو که چرے زَهٔ دَ خبرے کوُونکی په ژبه نۀ پوهيږم نو دَ هغۀ خبرے به ما ته پردئ ښکاری اَؤ زما به هغۀ ته پردئ ښکاری. ﴿۱۲﴾ نو کله چه تاسو دَ رُوحانی نعمتُونو خواهِش لرئ نو داسے کوشِش کوئ چه ستاسو دا نعمتُونه دَ جماعت دَ ترقئ دَ پاره وی.

﴿۱۳﴾ نو بيا زَهٔ وايم چه څوک چه په رُوحانی ژبه کښے خبرے کوی نو هغه دِ دُعا وکړی چه دَ تشريح کولو جوګه شی. ﴿۱۴﴾ دَ دے دَ پاره که زَهٔ په دُعا کښے هم دغه شان ژبه اِستعمالوم نو زما رُوح خو دُعا کوی ولے عقل مے بے کاره دے. ﴿۱۵﴾ نو بيا څۀ کول پکار دی؟ زَهٔ به په رُوح کښے هم دُعا غواړم اَؤ په عقل کښے به هم دُعا کوم، زَهٔ به په رُوح کښے هم دَ ثنا سندرے، وايم اَؤ په عقل کښے هم. ﴿۱۶﴾ فرض کړه، که تهٔ په رُوح کښے ثنا کوے اَؤ يو نا آشنا سړے چه هلته موجُود وی نو هغه به ستا په شکر ګذارئ څنګه آمين ووائی؟ ځکه چه هغه په دے



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نۀ پوهيږی چه تۀ څۀ وايئے. ۞۱۷ ستا شکر گذاری خو ښه ده خو هغه بل سړی ته څۀ مدد نۀ ورکوی.

۞۱۸ دَ خُدائے شکر کوم چه زَۀ له تاسو نه زيات په رُوحانی ژبو کښے خبرے کوم. ۞۱۹ خو زَۀ په جماعت کښے دَ نورو دَ تعليم اَؤ دَ پوهے دَ پاره تشے پينځۀ خبرے غوره گڼم، په ځائے دَ دے چه په رُوحانی ژبه کښے لس زره خبرے وکړم.

۞۲۰ اَئے زما ملگرو! په پوهه کښے ماشُومان مه جوړيږئ، بدئ ته خو ماشُومان شئ خو په پوهه کښے ځوانان. ۞۲۱ په تورات کښے ليکلی دیچه خُدائے وائی :

”زَۀ به دے قوم ته په پردو ژبو

اَؤ په غيرو شُونډو خبرے وکړم

اَؤ بيا به هم هغوئ زما خبرے وانۀ وری.“

۞۲۲ نو رُوحانی ژبے دَ ايماندارانو دَ پاره نه، بلکه دَ بے ايمانانو دَ پاره نخښے دی اَؤ دَ نبی په شان کلام کول دَ بے ايمانانو دَ پاره نه، بلکه دَ ايماندارانو دَ پاره نخښے دی.

۞۲۳ نو بيا که ټول جماعت يو ځائے راغونډ وی اَؤ رُوحانی ژبے وائی اَؤ نابلده يا بے ايمانه خلق دَ ننه راشی نو آيا هغوئ به تاسو ته ليونی ونۀ وائی څۀ؟ ۞۲۴ خو که دَ نبی په شان کلام کوئ اَؤ څوک بے ايمانه يا نابلده دَ ننه راشی نو هغه به قائل شی اَؤ هر څۀ چه آؤری، به دَ هغۀ جاج واخلی. ۞۲۵ اَؤ دَ هغۀ دَ زړۀ راز به ښکاره شی اَؤ بيا به هغه پړ مخ په سجده پريوزی اَؤ اِقرار به وکړی چه بيشکه خُدائے په تاسو کښے دے!



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## هر څۀ په ترتیب سره کول

۲۶ نو اَئے زما ورُونړو، لنډه دا چه هر کله چه تاسو عبادت ته جمع کيږئ نو هر یو دِ په تاسو کښې دَ زبُور، تعلیم، کشف یا دَ رُوحانی ژبې دَ تشریح خیال لری اَؤ دا ټولې خبرے به دِ دَ جماعت دَ ترقئ دَ پاره وی. ۲۷ که څوک په رُوحانی ژبه کښې خبرے کوی نو تش دوه کسان یا زیات نه درے دِ وار په وار خبرے وکړی اَؤ څوک دِ ئے خامخا تشریح کوی. ۲۸ اَؤ کۀ څوک تشریح کوُونکے نۀ وی نو ښه به دا وی چه رُوحانی ژبه ویُونکے دِ په جماعت کښې چُپ پاتے شی اَؤ په خپل زړۀ کښې اَؤ دَ خُدائے سره دِ خبرے وکړی. ۲۹ که څوک دَ نبیانو په شان کلام کول غواړی نو په هغوئ کښې دوه یا درے تنه دِ خبرے وکړی اَؤ باقی خلق دِ دَ هغۀ دَ خبرو جاج واخلی. ۳۰ خو که په موجُوده خلقو کښې چا ته دَ خُدائے کلام ورکړے شی نو وړُومبے کس دِ خاموش شی. ۳۱ په تاسو ټولو کښې په یو وخت یو کس دَ نبی په شان کلام کولے شی، دَ دے دَ پاره چه ټول ئے زده کړی اَؤ تسلی مُوندلے شی. ۳۲ څوک چه دَ نبی په شان کلام کوی، هغوئ دِ په خپل ځان قابُو ساتی. ۳۳ ځکه چه خُدائے دَ بدنظمئ نه، بلکه دَ امن بانی دے.

لکه چه دَ پاکانو په ټولو جماعتُونو کښې ده ۳۴ ښځې دِ خاموشے کښینی. هغوئ ته دَ خبرو کولو حُکم نِشته بلکه دَ شریعت په مُطابق دِ تابعدارے اوسی. ۳۵ اَؤ که هغوئ په څۀ خبره ځان پوهول غواړی نو دَ خپلو خاوندانو نه په کور کښې تپوس کولے شی. دا دَ شرم خبره ده چه ښځې دَ جماعت په غونډه کښې خبرے کوی.

۳۶ آیا دَ خُدائے کلام دَ تاسو نه راوتلے دے څۀ؟ یا صرف تاسو هغه خلق یئ چه تاسو له رارسیدلے دے؟ ۳۷ که چرے چا دَ نبی په شان کلام کولو یا ئے رُوحانی نعمت مُوندلے دے نو هغه دِ پوهه شی چه کُومے خبرے چه زۀ تاسو ته



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لیکم هغه دَ مالِک حُکم دے. ۳۸ اَؤ که چرے هغه دا نهٔ منی نو نهٔ دِ منی، هغه به هم نامنظور شی.

۳۹ نو ځکه اَئے زما ورُوڼو، لنډه دا چه دَ نبی په شان دَ کلام کولو خواهش لرئ اَؤ په رُوحانی ژبه کښے خبرے کول مه منع کوئ. ۴۰ خو ټولے خبرے په شائستګئ اَؤ ترتیب سره کوئ.

## دَ مسیح بیا ژوندے کیدل

**۱۵** ۱ نو اوس زما ورُوڼو، زَهٔ به تاسو ته هغه زیرے دریادوم کُوم چه ما وړاندے درکړے وو، اَؤ تاسو قبول کړے وو اَؤ پرے قائم هم یئ. ۲ اَؤ دَ دے زیری په وسیله چه تاسو خلاصُون بیا مُومئ که تاسو زما په درکړی زیری قائم یئ، که نهٔ یئ نو ستاسو ایمان راوړل عبث وو.

۳ ما دَ ټولو نه وړُومبے هغه اهمه خبره در ورسوله کُومه چه ما ته رارسیدلے وه چه مسیح دَ کتابِ مُقدس په مُطابق زمونږ دَ ګُناهُونو دَ پاره مړ شو، ۴ اَؤ ښخ شو اَؤ دَ کتاب مُقدس په مُطابق په دریمه ورځ بیا ژوندے پاخیدلو. ۵ اَؤ هغه پطروس ته ښکاره شو اَؤ دَ هغهٔ نه پس هغه دولسو کسانو ته. ۶ اَؤ بیا ورونړو ته چه دَ پنځو سوو نه زیات وُو یو ځل ښکاره شو چه په هغوئ کښے زیات کسان تر اوسه ژوندی دی اَؤ ځنے مړهٔ دی. ۷ بیا یعقُوب ته ښکاره شو اَؤ دَ دے نه پس ټولو رسُولانو ته.

۸ اَؤ په آخر کښے ما ته ښکاره شو. دا داسے وه لکه چه بے نیتے زیږدلے، ۹ اَؤ په رسُولانو کښے له ټولو نه ورکوټے یم تر دے چه دَ رسُول بللو لایق هم نهٔ یم ځکه چه ما جماعت په عذاب کړے وو. ۱۰ خو هر څهٔ چه یم هغه دَ خُدائے په فضل یم، بلکه هغه فضل چه په ما وشو هغه بے فائدے ونهٔ شو ځکه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چه ما دَ هغوئ ټولو نه زياته خوارى وکړله. دا ما ونۀ کړله بلکه دَ خُدائے په هغه
فضل وشوله چه په ما دے. ⑪ بيا دا هيڅ خبره نۀ ده که زۀ وم که هغوئ، مُونږ
دغه زيرے آؤروُو اَؤ په دے تاسو ايمان راوړو.

## زمُونږ بيا ژوندى کيدل

⑫ نو اوس که هم دغه څۀ مُونږ زيرے آؤروُو چه مسيح له مړو نه بيا را ژوندے
شو نو په تاسو کښے څنے دا څنګه وئيلے شى چه دَ مړو قيامت نِشته؟ ⑬ که
دَ مړو قيامت نِشته نو بيا خو مسيح هم نۀ وو بيا ژوندے شوے. ⑭ اَؤ که مسيح
نۀ وو ژوندے شوے نو بيا زمُونږ پيغام بے فائدے اَؤ بے معنىٰ دے اَؤ هم دغه
شان ستاسو ايمان راوړل. ⑮ بلکه مُونږ دَ خُدائے دروغژن ګواهان شُو څکه
چه مُونږ دَ خُدائے په بابت دا ګواهى ورکړے وه چه هغۀ مسيح راژوندے کړو.
که چرے مړى نۀ راژوندى کوى نو بيا هغه ئے هم نۀ دے ژوندے کړے. ⑯
څکه چه که مړى نۀ راژوندى کيږى نو مسيح هم نۀ وو راژوندے شوے. ⑰ اَؤ
که چرے مسيح نۀ وو راژوندے شوے نو ستاسو ايمان بے فائدے دے اَؤ تاسو
هم هغه شان په خپلو زړو ګناهُونو کښے راګير يئ. ⑱ اَؤ کُوم ايمانداران چه
مړۀ شول هغوئ هم هلاک شول ⑲ که چرے مُونږ صرف دَ دے ژوند دَ پاره په
مسيح اُميد کړے دے نو بيا مُونږ په ټولو بنى آدمو کښے زيات بدنصيب يُو.

⑳ خو په حقيقت کښے مسيح راژوندے شوے وو. داسے هغه په مړو کښے
اولنے ژوندے شوے سړے دے. ㉑ څکه چه دَ يو سړى په سبب په دُنيا کښے
مرګ راغلے اَؤ دَ يو سړى په سبب دَ مړو نه راژوندى کيدل راغلل. ㉒ لکه څنګه
چه ټول خلق چه دَ آدم اَؤلاد دى، مرى، هغه شان څوک چه دَ مسيح دى ټول به
ژوندى کړے شى. ㉓ خو هر يو به په خپل خپل وار، اول مسيح، بيا دَ مسيح په
راتلو دَ هغۀ خلق. ㉔ بيا به آخرت راشى، اَؤ کله چه مسيح ټول حُکومتُونه اَؤ
ټول اِختيارُونه اَؤ قُدرتُونه نِشت کړى نو بادشاهى به خُدائے، يعنے خُدائے پلار ته



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په حواله کړی. ﴿۲۵﴾ ولې چه تر څو چه مسیح ټول دُښمنان تر پښو لاندې نۀ کړی هغۀ له بادشاهی کول ضرُوری ده. ﴿۲۶﴾ اَؤ دَ ټولو نه وروستې دُښمن چه به نِشت کړی، هغه مرګ دے. ﴿۲۷﴾ ځکه چه "خُدائے ټول څیزُونه دَ هغۀ دَ پښو دَ لاندې کړی دی،" خو دَ ټولو څیزُونو مطلب دا نۀ دے چه خُدائے په دے څیزُونو کښې شامل دے ځکه چه خُدائے دا ټول څیزُونه دَ مسیح دَ لاندې کړی دی.
﴿۲۸﴾ اَؤ هر کله چه ټول څیزُونه ئے دَ هغۀ دَ لاندې کړی دی نو زوئے به هم دَ خُدائے دَ لاندې کړے شی چا چه ټول څیُزونه دَ هغۀ دَ لاندې کړل اَؤ دغه شان به خُدائے په ټولو کښې هر څۀ وی.

﴿۲۹﴾ اوس داسې خلق چه دَ مړو دَ پاره بپتسمه آخلی نو هغوئ داسې ولې کوی؟ که چرې مړی بیخی راژوندی کیږی نه، نو بیا دَ هغوئ دَ پاره دَ بپتسمه آخستلو څۀ مطلب دے؟ ﴿۳۰﴾ اَؤ بیا مُونږ په خپله ولې هر وخت په خطره کښې یُو؟ ﴿۳۱﴾ زما ورُوڼو! تاسو زمُونږ په مالِک عیسیٰ مسیح کښې زما ویاړ یئ، باور وکړئ چه زۀ هره ورځ مرم. ﴿۳۲﴾ که چرې زۀ دَ بنی آدم په شان په اِفسوس کښې دَ داړُونکو ځناورو سره وجنګیدلم نو ما ته څۀ فائده ده؟ که مړی به راژوندی نۀ شی نو "راځئ چه خورُو څښُو ځکه چه صبا خو هسې هم مړۀ کیږُو."

﴿۳۳﴾ ګمراه کیږئ مه، دَ بدو ملګرتیا دَ سړی عادتُونه خرابوی. ﴿۳۴﴾ اَؤ دَ رښتُونی اَؤ غوره ژوندُون دَ پاره په هوش کښې راشئ اَؤ ګُناه پریږدئ زۀ تاسو ته دا دَ شرم راوستلو دَ پاره وایم، ځنې داسې دی چه دَ خُدائے نه بے خبره دی.

## راژوندے شوے جسم

﴿۳۵﴾ خو تاسو به تپوس کوئ چه مړی څنګه راژوندی شی اَؤ په څۀ قِسم جِسم کښې به راځی؟ ﴿۳۶﴾ اَئے نادانه! کُوم تُخم چه تۀ په خپله کرې نو تر څو چه هغه مړ نۀ شی تر هغې ژوندے کیږی نه. ﴿۳۷﴾ اَؤ څۀ چه تۀ کرې هغه دا وجُود نۀ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دے چه دَ پیدا کیدُونکی دے بلکه صرف دانه ده که هغه دَ غنم وی یا دَ څۀ بل ځیز. ۳۸ خو خُدائے چه څنګه اِراده وکړی هم هغه شان هغۀ ته وجُود ورکوی اَؤ هر تُخم ته خپل خاص وجُود.

۳۹ ټوله غوښه یو شان غوښه نۀ ده بلکه دَ انسان غوښه یو قِسم ده اَؤ دَ څاروو بل قِسم اَؤ دَ مرغانو بل قِسم اَؤ دَ کبانو غوښه بل قِسم ده.

۴۰ آسمانی ځیزُونه قِسما قِسم دی اَؤ دَ مزکے هم، خو آسمانی جلال یو څۀ دے اَؤ دَ مزکے بل څۀ. ۴۱ دَ نمر جلال یو څۀ دے، دَ سپوږمۍ جلال بل څۀ، دَ ستورو جلال بل څۀ، ځکه چه دَ ستوری ستوری په جلال کښے فرق دے.

۴۲ دَ مړو راژوندی کیدل هم دغسے دی، دَ فنا په حالت کښے ښخولے شی اَؤ دَ بقا په حالت کښے راژوندی کیږی. ۴۳ دَ بے عزتۍ په حالت کښے ښخولے شی اَؤ دَ جلال په حالت کښے راژوندی کیږی، په کمزورتیا کښے ښخولے شی اَؤ په طاقت کښے راژوندی شی. ۴۴ جسمانی وجُود ښخولے شی اَؤ رُوحانی وجُود راژوندے کیږی. هر کله چه نفسانی وجُود شته نو رُوحانی وجُود هم شته. ۴۵ هم دغه شان لیکلی دی: ”اول سړے، یعنے آدم ژوندے نفس جوړ شو، خو آخری آدم ژوندُون ورکُوونکے رُوح جوړ شو.“ ۴۶ خو رُوحانی اول نۀ وو بلکه نفسانی، اَؤ دَ دے نه پس رُوحانی شو. ۴۷ اول سړے دَ مزکے نه، یعنے خاکی وو، اَؤ دویم سړے آسمانی وو. اَؤ څنګه چه هغه خاکی وو هغه شان به نور هم خاکی وی ۴۸ اَؤ څنګه چه هغه آسمانی وو هغه شان به نور هم آسمانی وی، ۴۹ اَؤ څنګه چه مُونږ دَ دے خاکی په صُورت جوړ شوی یُو دغه شان به په آسمانی صُورت کښے هم شُو.

۵۰ زما ورُوڼو، زما مطلب دا دے چه دَ اِنسان جسم دَ خُدائے دَ بادشاهۍ وارث نۀ شی کیدے اَؤ دا جِسم چه مړ کیدُونکے دے دَ بقا وارث کیدے نۀ شی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵۱ ګورئ! زۀ به درته يوه دَ راز خبره کوم چه مُونږ ټول خو به نۀ مرُو بلکه مُونږ
ټول به بدل شُو، ۵۲ دَ سترګے په يو رپ کښے چه ورستے بګل وغږيږى اَؤ دَ
بګل دَ آواز سره به مړى په غير فانى حالت کښے راژوندى شى، اَؤ مُونږ به بدل
شُو. ۵۳ ځکه چه ضرورى دى چه دا مړ کيدُونکے جِسم دِ غير فانى جامے
واغوندى اَؤ دا مړ کيدُونکے جِسم دِ دَ آبدى ژوندُون جامے واچوى. ۵۴ اَؤ هر
کله چه دا فانى جِسم غير فانى، اَؤ دا مړ کيدونکے جِسم آبدى جامے واچوى، نو
هغه قول به پُوره شى چه ليکلى شوى دى چه :

”مرګ ختم کړے شو، فتح وکړے شوه!“

۵۵ ”اَئے مرګه! ستا هغه فتح څۀ شوه؟

اَئے مرګه! ستا دَ طاقت هغه لشه څۀ شوه؟“

۵۶ دَ مرګ لشه ګُناه ده اَؤ ګُناه دَ شريعت نه خپل طاقت بيا مُومى. ۵۷ خو دَ
خُدائے شکر دے چه هغۀ مُونږ ته دَ مالِک عيسىٰ مسيح په وسيله فتح راکوى.

۵۸ نو اَئے زما خوږو ورُوڼو! ټينګ اَؤ قائم اوسئ اَؤ هميشه دَ مالِک په کار
کښے بوخت اوسئ ځکه چه تاسو خبر يئ چه په مالِک کښے ستاسو خوارى
بے فائدے نۀ ده.

## دَ زيرګانو دَ پاره چنده

۱۶ ۱ اوس دَ هغے چندے په حقله چه دَ پاکانو دَ پاره کيږى څنګه چه ما دَ
ګلتيانو جماعتُونو ته حُکم کړے دے، هغسے تاسو هم وکړئ. ۲ دَ هفتے په
وړُومبئ ورځ په تاسو کښے دِ هر څوک دَ خپلے ګټے په مُطابق دَ خپل ځان
سره څۀ جمع کړى، دَ دے دَ پاره چه زما په راتلو دَ چندے کولو حاجت نۀ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پیښیږی. ۳ اَؤ کله چه زَهٔ درشم نو چه څوک ستاسو خوښ وی، هغوئ له به زَهٔ خط ورکړم اَؤ ویه ئے لیږم چه ستاسو شکرانه بیتُ المُقدس ته یوسی. ۴ اَؤ که زما تلل هم مُناسب وی نو هغوئ به ما سره لاړ شی.

## دَ سفر دَ پاره منصُوبے

۵ اَؤ زَهٔ به دَ مِکدونیه په لاره تاسو له درشم ځکه چه ما ته دَ مِکدونیه په لاره هسے هم تلل دی. ۶ شاید چه ستاسو سره ایسار شم اَؤ ژمے به تاسو سره تیر کړم بیا چه کُوم پلو چه زَهٔ دَ تلو نیت وکړم نو تاسو به مے واستوئ. ۷ ځکه چه زَهٔ اوس په لاره کښے تاسو سره مُلاقات کول نهٔ غواړم بلکه زما دا اُمید دے چه که مالِک وغوښتل نو څهٔ ورځے به تاسو سره تیرے کړم.

۸ خو زَهٔ به دَ پنتکُست اختر پورے په اِفسوس کښے یم. ۹ ځکه چه زما دَ پاره دَ فائده مند کار یوه لویه دروازه خلاصه ده اَؤ مُخالفان ډیر دی.

۱۰ که چرے تیموتیوس درشی نو خیال ئے وساتئ اَؤ دَ زړهٔ دَ اِخلاصه هغه قبُول کړئ ځکه چه هغه زما په شان دَ مالِک کار کوی. ۱۱ نو باید چه هغه څوک سپک نهٔ کړئ بلکه هغه صحیح سلامت دے لور ته را رُخصت کړئ چه ما ته راشی ځکه چه دَ نورو ورُوڼو سره دَ هغهٔ اِنتظار کوم.

۱۲ اَؤ ورور اپولوس ته ما ډیر خواست وکړو چه دَ ورُوڼو سره تاسو ته درشی خو هغه دا وخت په درتلو بلکل راضی نهٔ شو، خو هر کله چه موقع ورته په لاس ورشی نو دربه شی.

## آخری خواهش اَؤ سلام

۱۳ بیدار اوسئ، ایمان قائم لرئ، زړهٔ ور شئ، مضبوط اوسئ. ۱۴ څهٔ چه کوئ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په مينه ئے کوئ.

۱۵ اَئے ورُونړو، تاسو دَ ستِفناس خاندان پيژنئ چه هغه په اخيه کښے ورُومبی
ايمانداران شول اَؤ دَ پاکانو په خدمت کښے تل ولاړ دی. ۱۶ پس زَهٔ درته دا
سوال کوم چه دَ داسے خلقو تابع اوسئ بلکه دَ هر داسے سړی چه په دے کار
اَؤ زيار کښے شريک دے. ۱۷ اَؤ زَهٔ دَ ستِفناس اَؤ دَ فرتوناتوس اَؤ اخيکوس په
راتلو ډيرخوشحاله يم ځکه چه څهٔ چه ستاسو نه پاتے شوی وُو، هغه هغوئ پُوره
کړل. ۱۸ اَؤ هغوئ زما اَؤ ستاسو رُوح تازه کړو نو دَ داسے کسانو ومنئ.

۱۹ دَ ايشيا جماعتونه درته سلام وائی، اکوله اَؤ پرسکيله دَ هغے جماعت سره
چه دَ هغوئ په کور کښے ده تاسو ته په مالِک کښے ډير ډير سلام کوی. ۲۰
ټول ورُونړه درته سلام کوی. يو بل په پاکه مينه ښکل کړئ اَؤ په يو بل سلام
ووايئ. ۲۱ زَهٔ پولوس درته په خپل لاس سلام ليکم. ۲۲ څوک چه دَ مالِک سره
مينه نهٔ لری په هغهٔ دِ لعنت وی، مالِک راتلُونکے دے. ۲۳ دَ مالِک عيسیٰ مسيح
فضل دِ په تاسو وی. ۲۴ تاسو ټولو ته چه په عيسیٰ مسيح کښے يئ، دِ زما مينه
قبُوله شی.


Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.